# د ټاکنو خپلواک کمیسیون پرېکړه لیک

**شمېره:** ۳۷ـ ۱۳۹۳

**موضوع:** د ۱۳۹۳ کال د ولسمشریزو ټاکنو د دویم دور د رأیي پاڼو صندوقونو د تفتیش او بیاشمېرني د پایلو په اړه پرېکړه؛

**ځانګه:** د ټاکنو خپلواک کمیسیون دارالانشاء

**د غونډې نېټه او ځای:** د ۱۳۹۳ کال د زمري ۲۵مه، (د ۲۰۱۴ کال د اګست۱۶ مه) د ټاکنو خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر.

**حاضر غړي:** ښاغلی ډاکتر احمد یوسف نورستاني، ښاغلی عبدالرحمن هوتکي، آغلې ګلالی اڅکزی، ښاغلی سرير احمد برمک، ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني، ښاغلی محمد عزیز بختیاري، ښاغلی قاضي سلیمان حامد، آغلې لیلا احراري او آغلې شریفه زرمتی وردک.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون او ټاکنیزو شکایتونو د خپلواک کمیسیون د صلاحیتونو، دندو او تشکیل قانون د ۱۳ مې مادې، د ټاکنو قانون د ۵۸ او ۵۹ مادو د حکمونو او د افغانستان د جمهوري ریاست د تخنیکي چوکاټ له مخې چې د ملګرو ملتونو په منځګړیتوب د ولسمشریزو ټاکنو دواړو نوماندانو ور باندې هوکړه کړې، پرېکړه کوي چې:

- د ټاکنو خپلواک کمیسیون ۳۷ شمېره پرېکړه لیک د ولسمشریزو ټاکنو د دویم دور د رأیي پاڼو صندوقونو د عمومي ( سل په سلو کي ) تفتیش په اړه صادره شوه.
- د ۱۳۹۳ کال د ولسمشریزو ټاکنو د دویم دور د رأیي پاڼو صندوقونو د تفتیش او بیاشمېرنې طرزالعمل.
- د ۱۳۹۳ کال د ولسمشریزو ټاکنو د دویم دور د رأیي پاڼو صندوقونو د بیاشمېرنې او رأیو د باطلولو په اړه د ټاکنو خپلواک کمیسیون ۳۳ شمېره پرېکړه لیک.
- او د تفتیش د طرزالعمل په اړه د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ۱۳۹۳ کال د زمري ۱۷ نېټې توضیح.

**د ټاکنو خپلواک کمیسیون پرېکړه وکړه چې:**

الف. د تفتیش ډیټابیس.

د رأیې د ثبت ملي مرکز باید په ډیټابیس کې لاندې معلومات درج کړي:

۱. د تفتیش چیک لیسټ.

۲. د بیاشمېرنې د پایلو فورمې.

**ب. د تفتیش د ډیټابیس ریپورټ**

د دې له پاره چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون غړي وکولی شي چې د رأیي پاڼو د بیاشمېرنې او د رأیو د باطلولو، یا له رأیي شمېرنې بهیر څخه د صندوقونو د ایستلو په اړه خپل ۳۳ شمېره پرېکړه لیک، پلی کړي، د پایلو ملي مرکز د تفتیش د ډیټابس د معلوماتو پر بنسټ لاندې ریپورټونه چمتو کوي.

**A. هغه صندوقونه چې بیا شمېرل کېږي:**

د کمیسیون د ۳۳ پرېکړې پر اساس، په لاندې مواردو کې د یو محل رأیي بیاشمېرل کېږي او کمیسیون به يې په اړه جدي پرېکړه کوي:

۱ . که چېرې د پایلو فورمې کاپي په صندوق کې نه وي او یا په کې د لاسوهنې شواهد موجود وي.

۲ . که چېرې د پایلو په فورمو کې د درج شویو پایلو ټولیز شمېر (معتبرې، ضایع شوې او ناکارول شوې پاڼې) له ۶۰۰ څخه ډېرې وي.
۳ . که چېرې د پایلو د فورمې د کاپي او په صندوق کې د شته رایو، او پایلو د هغې فورمې تر منځ چې د پایلو له ملي مرکز څخه تر لاسه کېږي، څرګند توپیر موجود وي.
۴ . که چېرې د رأیې ورکوونکیو لیست موجود نه وي ( سپین وي) او یا هم د کارتونو له لسو څخه زیاتې شمېرې په پرله پسې توګه په کې ثبت شوي وي.
۵ . که چېرې د پایلو په فورمه او د رأیې ورکوونکیو په لیست کې تر ۵۰ سلنه زیات توپیر موجود وي.
۶ . که چېرې د رأیې صندوق دومره مات او تخریب شوی وي چې لاس په کې دننه شي او یا یې مهر اولاکونه دومره سست وي چې لاس په کې ننوځي.
۷ . که چېرې د صندوق د شاوخوا دوه یا له دوو څخه زیات مهر او لاکونه تخریب یا مات شوي وي او یا هم د لاسوهنې څرګندې نښې په کې موجودې وي، یا د صندوق د شاوخوا د دوو مهرولاکونو شمېرې د مهر او لاکونو د ثبت فورمې له شمېرو سره چې په صندوق کې دننه موجوده ده، مطابقت ونه لري.
د چیک لیست د ۱۶ شمېرې د پوښتنې پّه اړه، د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ۶۰۰ صندوقونو بیاشمېرنه چې د دواړو ټاکنیزو ټیمونو له خوا ځانګړې څېړنې ته وړاندې شوي دي، تصویب کړه او د تفتیش له ډیټابیس څخه د دغې کټګورۍ له پاره یو ځانګړی ریپورټ چمتو کېږي.

**B . هغه صندوقونه چې باطلېږي:**

که چېرې په تفتیش کې لاندې موندنې ترلاسه شي چې کمیسیون د خپلې ۳۳ پرېکړې پر اساس، هغه صندوقونه په بشپړه توګه باطلوي:
۱ . که چېرې د رأیې پاڼو صندوقونه هغه بڼه ونه لري چې د کمیسیون له خوا د لسمشریزو ټاکنو دوم دور له پاره وېشل شوي وو.
۲ .که چېرې په صندوق کې یوه رأیې پاڼه هم نه وي موجوده، یا هیڅ رأیې پاڼه مهر شوي نه وي، یا ټولې رأیې پاڼې د طرزالعمل مطابق نه وي نښه شوې، یا ټولې رأیې په څرګنده توګه ورته یا مشابه نښې ولري، یا ټولې رأیې پاڼې له کندې څخه نه وي بېلې شوې.
۳ . که چېرې د رأیې ورکولو محل په ژورنال کې د زور زیاتي، جګړې، له ټاکنیزو کارکوونکیو څخه د ټاکنیزو توکیو د کنټرول له لاسه ورکولو ریپورټ ورکول شوی وي.
۴ . که چېرې د رأیې ورکوونکیو لیست ورک شوی وي یا سپین ( خالي ) وي. یا د ټولو رأیې پاڼو ۳۳ سلنه مهر شوي نه وي، یا په څرګنده توګه ورته یا مشابه نښه شوي وي، یا له کندې څخه نه وي بېلې شوي.
۵ . که چېرې د رأیې ورکوونکیو په لیست کې له لسو څخه زیات د رأیې ورکونې کارتونه په مسلسلو شمېرو سره ثبت شوي وي او کم له کمه ۳۳ سلنه رأیې پاڼې مهر شوي نه وي، یا د طرزالعمل مطابق نښه شوي نه وي، یا په څرګنده توګه ورته نښې ولري، یا له کندې څخه نه وي بېلې شوي.
۶ . که چېرې د رأیې پاڼو صندوقونه دومره مات او تخریب شوي وي چې لاس په کې ننوځي او یا د پایلو په فورمه او د رأیې پاڼو په بنډل کې د لاسوهنې ښکاره شواهد موجود وي.
۷ . که چېرې د رأیې پاڼو صندوق د شاوخوا دوه یا له دوو څخه زیات مهراو لاکونه مات شوي وي، یا د لاسوهنې نښې په کې څرګندې وي، یا یې مهر او لاکونه دومره سست وي چې صندوق ته لاس په کې دننه شي او د پایلو په فورمه او رأیې پاڼو په بنډل کې د لاسوهنې ښکاره نښې موجودې وي.
۸ . که چېرې د صندوق د دوو یا له دوو څخه زیاتو مهراو لاکونو شمېرې په صندوق کې دننه د مهراولاکونو د ثبت فورمې له شمېرو سره مطابقت ونه لري.

**C . عادي او بې ستونزو صندوقونه:**

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د خپلې ۳۳ پرېکړه لیک پر اساس د رأیې ورکونې ټول هغه محلونه چې د تفتیش په ترڅ کې هیڅ ډول بې نظمي په کې نه وي لیدل شوي، او د ۳۳ شمېره پرېکړه لیک د ۱ ، ۲ او ۳ مادې اجراء په کې نه وي موندل شوي، تصمیم نیول نیسي.

**ج.د لسمشریزو ټاکنو د دویم دور د رأیې ورکونې محلونو د پایلو په اړه د ټاکنو خپلواک کمیسیون پرېکړه.**

**A . پرېکړې:**

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د هغو صندوقونو په اړه چې په هکله یې یو ډول موندنې ترلاسه شوي، په ګروپي ډول پرېکړه کوي. البته کمیسیون د اړتیا پر مهال د لازیات وضاحت له پاره چیک لیستونه په انفرادي بڼه هم څېړي.
د تفتیش / بیاشمېرنې په اړه د کمیسیون پرېکړه عبارت ده له: د بیاشمېرنې او رأیو باطلولو د معیارونو په اړه د کمیسیون په ۳۳ شمېره پرېکړه لیک کې ذکر شوي معیارونه، د ۱۳۹۳ کال د ولسمشریزو ټاکنو د دویم دور د رأیو د تفتیش او بیاشمېرنې په اړه د کمیسیون طرزالعمل، د تفتیش د طرزالعمل په اړه د کمیسیون د ۱۳۹۳ کال د زمري د ۱۷ نېټې توضیحات.

د کميسيون په هره غونډه کې چې په دې اړه جوړېږي، په ټول هېواد کې د بېلابېلو ولايتونو ذ رأيې ورکونې محلونه پروسس کېږي. د تصميم نيونې له پاره د رأيې ورکونې محلونو انتخاب به په متوازن ډول پر مخ لاړ شي؛ د قضاوت او د معلوماتو د درج له پاره به محلونه داسې غوره شي چې د دواړو نوماندانو د پلويانو توازن په کې مراعات شي.
کميسيون به هغه محلونه چې تصميم وربانديې نيول کېږي، له تصميم نيونې څخه ۲۴ ساعته مخکې په خپل ويب سايټ کې اعلانوي.

**B . تصميم نيونه:**

**د رأيې ورکونې محلونو په اړه تصميمونه په لاندې توګه نيول کېږي:**

۱ . د هغو صندوقونو په اړه چې د کميسيون د ۳۳ پرېکړه ليک د ۱ ، ۲ او ۳ بندونو پر اساس هيڅ ډول بې نظمي په کې نه ده ليدل شوې.
۲ . د هغو صندوقونو په اړه چې د تفتيش په پايله کې بې نظمي په کې ليدل شوې او د کميسيون د ۳۳ پرېکړه ليک د ۳ مادې پر اساس بايد د رأيې ورکونې ټول محل له بياشمېرنې څخه واېستل شي.
۳ . د هغو محلونو په اړه چې د تفتيش په پايله کې د بې نظميو په اړه شواهد په کې وليدل شي او د کميسيون د ۳۳ پرېکړه ليک د ۱ او ۲ مادو پر اساس بايد بياوشمېرل شي.
۴ . د هغو صندوقونو په اړه چې د کميسيون د ۳۳ پرېکړه ليک د ۱ مادې پر اساس بياشمېرل شوي دي.
۵ . د محلونو د پايلو په اړه پرېکړه چې د کميسيون د ۳۳ پرېکړه ليک پر اساس يې صندوقونه ورک شوي، يا د نورو دلايلو له امله موجود نه دي او يا هم مات او تخريب شوي دي.
۶ . د رأيې ورکولو د هغو محلونو په اړه چې د کميسيون د تعريف له مخې د دغو کټګوريو له ډلې په يوه کې هم نه شامليږي.
۷ . که چېرې په چيک ليستونو کې خانه خالي يا نا مکمل معلومات موجود وي، کميسيون داسې انګيري چې:

I. که چېرې د چيک ليسټ ( ۱ ، ۲ ، ۳ ، ۴ ، ۵ ، ۶، ۷، ۸، ۹، ۱۰، ۱۱ ، ۱۲ ، ۱۳ او ۱۴ ) پوښتنو په اړه هيڅ هم نه وي ثبت شوي، عادي ګڼل کېږي.

II. په هغه ځای کې چې په چيک ليست کې د ټاکلي پوښتنې له پاره عددونه ټاکل شوي وي، د هو/ نه اړوند معلومات د ( ۸، ۹ ، ۱۰، ۱۱و ۱۲ ) پوښتنو له ځوابونو څخه ترلاسه کولی شو.

III. په هغو چيک ليسټونو کې چې د هو/ نه خانې خالي وي، اړوند معلومات د ۱۳ شمېرې پوښتنې له تشريحي متن څخه ترلاسه کولی شو.

ملګرو ملتونو د تفتيش په ټول بهير کې د معتبرو بين المللي معيارونو پر اساس کميسيون ته مشورې ورکوي.

**C . علني استماعيه غونډې:**

د ټاکنو خپلواک کميسيون او ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کميسيون د دندو او صلاحيتونو قانون د ۱۲ مادې پر اساس، د کميسيون پرېکړې په علني غونډو کې د نوماندانو د استازيو، کورنيو او بين المللي کتونکيو او د ټولنيزو رسنيو په حضور کې چې باورليکونه ورکول شوي، ترسره کېږي.

**D . د پايلو خپرول:**

د رأيې ورکونې د محلونو په اړه د ټاکنو خپلواک کميسيون پرېکړه په ورځنۍ توګه د کميسيون په ويب سايټ کې خپرېږي.
کميسيون به د هر صندوق په هکله پرېکړه او د هغه دلايل به په روښانه توګه بيانوي.

| د پرېکړې مخالف | د غړيو نومونه | د پرېکړې موافق |
|---|---|---|
| | ښاغلی ډاکتر احمد يوسف نورستاني | |
| | ښاغلی عبدالرحمن هوتکی | |
| | آغلې ګلالۍ اڅکزۍ | |
| | ښاغلی سرير احمد برمک | |
| | ښاغلی پوهاند محمد حسين ګرزيواني | |
| | ښاغلی محمد عزيز بختياري | |
| | ښاغلی قاضي سليمان حامد | |
| | آغلې ليلا احراري | |
| | آغلې شريفه زرمتۍ وردک | |